**( H) برخه: د تولید موقیعت یا ځای**

**دوهم لوست:د خپل مال په شمول سره د نسبي برترۍ او ښيګڼي پيداکول**
**(Comparative Advantage, Including Your Own)**

**د زه کونکو د زده کړي موخي** : زده کونکي به په دي لوست کي د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي:

**۱** – د نسبي غوره والی د تیورۍ یا نظري تشریح کول (comparative advantage).

**۲** – د فرصت د قیمت تشریح کول (opportunity cost) .

**۳** – د نسبي غوره والی د منابعو تشریح کول.

**۴** – د ځو هیوادونو(راز لر ونکو) د منابعو د نسبي غوره والی تشریح کول له دي وروسته ددي هیوادونو تشخیص کول.

**۵** – د شخصي مهارتونو د لست تکمیل یا بشپړ کول ترڅو چي د هغې د منابعو د تشخیص او تعین به برخه کي د هغې له نسبي غوره والی سره مرسته وکړي، او ددي امر تحقیق کول چي کوم نوعه کارونه له دي نوعې سره نسبي غوره والی ته اړتیا لري.

**د لوست ورکولو لپاره آټکل شوی وخت:** 1 ساعت

**وړاندیز شوي منابع:** لاندې منابع کولی شي چي ددي لوست په ورکولو کي ګټوري واقع شي:

ددي درسي پلان اریه د کمپیوټر په پاورپواینټ پروګرام کي هم آماده شوی ده

Finding A Comparative Advantage, Including Your Own. *Focus: Globalization*, National Council on Economic Education, New York, NY.

**د سامانونو، لوازمو، شیانو او اسانتیاوو فهرست یا لړلیک**

د لیکلو لپاره تش یا خالي سپینه ورقه

د پاورپواینټ په خاطر پراجکتور یا غټ ښودنکی

د پاورپواینټ سلایدونه یا صفحي

روښانه سلایدونه یا صفحي

د زده کونکو د ورقو کاپي

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني به په دي لوست کي تر استعمال لاندې راشي(ذکر شوي اصطلاح ګان د پاورپواینټ په ۲ شمیره سلاید کي وړاندي شوي دي):

- Comparative advantage نسبتي غوره والی
- Human capital  انساني پانګه
- Opportunity cost  د وخت یا فرصت قیمت
- Specialization تخصص یا کاري ځانګړتیا

**په زړه پورې تګلاره**: د زده کونکو لپاره دا روښانه کړي چي نن ورځ هغوي  غواړي ترڅو د درک کولو مهمه تيوري يا نظريه(کشف) کړي ترڅو چي دا تيوري له مونږ سره مرسته وکړئ چي ولي هيوادونه غواړي يو له بل سره خپل تجارتونه ولري. څرنګه چي زده کونکو په تيرو لوستونو کي مطالعه کړل چي بين المللي تجارت د هري ورځي په زياتيدو سره د نړۍ داقتصاد جز يا برخه کيدلی شي. له دي سره چي مونږ کولی شو ارقام او معلومات مشاهده کړو يا وګورو او پوهيږو چي دا ارقام ښکاره او روښانه دي. دا ارقام دا نه بيانوي چي ولي ځني هيوادونه حتماً غواړي چي يو له بل سره خپل تجارت ولري. که چيري يو هيواد لکه چين غواړي چي ټول د ضرورت يا اړتيا وړ شيان توليد کړي، نو پس چين ضرورت لري ترڅو خپل ښاريان او خلک خوشاله وساتي. ولي چين د ايټاليا سره تجارت کوي؟باالخصوص که چيري چين کولی شي چي ټول شيان ارزانه، چټک او غوره کړي نسبت د ايټاليا توليد ته، نو په تجارت کي به کومه انګيزه شتون ولري؟ حتي د همدي هيوادونو په منځ کي تجارت خپله نمو او انکشاف د دوام په حال کي لري.

## د محتوياتو خلاصه او د لوست  ستراتيژي

**لومړۍ موخه يا هدف:** د نسبي غوره والی  د موضوع تشريح کول (comparative advantage).
**آټکل  شوی يا وړاندوينه شوي مسله:** د نسبي غوره والی تيور ي يا نظريه څه ده؟ اود فرصت قيمت له څه شی نه عبارت دی؟

**(د پاورپواينټ ۳ شميره سلايد)**

۱ - د اقتصاد علما هغه تيوريو يا نظريو ته انکشاف ورکوي چي خلک په  څۀ ډول سره په يوه ټاکلې برخه کي تصميم ونيسي په دي برخه کي اقتصاد پوهان زيات کوښښونه کوي. له دي سره، سره چي د ټولو شيانو تيوري  يانظريه په دقيقه توګه او روښانه ډول نه تشريح کوي، ولي کم ترکمه ددي امر د درک په برخه کي چي خلک ولي ځني مشخص تصميمونه نسبت نورو تصاميمو ته نيسي، په دي هکله مرسته کوي. په بين المللي تجارت کي يوه له مهمو تيوريو يا نظريو څخه عبارت ده د نسبي غوره والی له تيوری يا نظري(comparative advantage) څخه ده.

**(د پاورپواينټ ٤ شميره سلايد)**

**الف )  نسبي غوره والی ( Comparative advantage)**،د خدماتو د سرته رسولو په لږ قيمت سره او يا هم د جنس د توليد کولوله توانايي نه نسبت نورو اشخاصو او هيوادونو ته عبارت دی. په دي معني چي د ګټو په لاس راوړل دي د هغه تجارت له لاري چي د خلکو او يا د هغه کمپنيو پواسطه چي توليد پلوري ، دا هغو وخت په لاس راځي چي هغوي په لږ قيمت سره توليد وکړي، او شيان له خلکو او کمپنيو څخه چي توليد کوي په ارزانه قيمت سره واخلي. ځني تجارتونه له خلکو او د نورو هيوادونو له شرکتونو سره صورت نيسي، په بل عبارت سره بين الملل تجارت (international trade) .

**(د پاورپواينټ ٥ او ٦ شميري سلايدونه)**

**ب )** دواړه يعني خلک او هيواد د هغي شيانو په توليد کي تخصص لري چي په هغې کي نسبي غوره والی ولري. علما يا پوهان د اقتصاد تخصص(*specialization*) داسې تعريفوي، هغه شخص او هيواد چي نسبت خپل مصرف ته شيان او خدمتونه لږ توليدوي، او وروسته ځني شيان چي هغوي يې توليدوي هغه د نورو شيانو د مصرف لپاره راکړه ورکړه کوي. د مثال يا بيلګي په توګه يو ډاکټره غذا يا خوراکه نه توليدوي يا دا چي کورونه يا ودانۍ نه جوړوي، بلکي له خپلې لاسته راوړنې څخه چي د ډاکټر په حيث يي په لاس راوړي د خپل ضرورت وړ شيان له دهقان او يا کور جوړونکی څخه په لاس راوړي. په ورته ډول سره هيوادونه ځني خدمات او خپل شيان نورو هيوادونو ته صادروي يا ليږد کوي، او نور خدمتونه او شيان له هغوي څخه واردوي.

**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)**

**الف )** د فرصت قیمت( Opportunity cost) له یو متبادل کار یا قیمت(alternative)  نه عبارت دی چي باید په یاد کي وساتل شي تردي پوري چي د یوکار د سرته رسولو کي ډاډمنتوب صورت ونیسي. یا په بل عبارت سره د فرصت قیمت له هغو ګټو نه عبارت دي چي تاسې کولی شی د عمل په کولو سره د هغې متبادل په لاس راوړی. د مثال په توګه دفرصت قیمت کالج ته تلل له هغه پیسو نه عبارت دي چي تاسې یي شاید په لاس راوړي که چیري تاسې د کالج په عوض کار ته لاړ شی. له یو پلوه تاسې د څلورو کلونو تنهواه یا معاش له لاسه ورکړ، ولي نا ویلي دي پاتي نه وي چي تاسې یو علمي معتبرسند په لاس راوړلی شی. له بل پلوه تاسې هیله من یاست چي د رسمي کارونو په دوران کي زیاتي پیسي په لاس راوړی،  نو د خپل تعلیم شکر ویستونکی به وی، چي ستاسي له وتلي مزدوري جبران کوي. بل مثال ددي موضوع عبارت دی له: د بیلګي په توګه که چیري یو کښت کونکی تصمیم نیسي ترڅو چي ګازري کښت کړي، پس د فرصت قمیت د هغي لپاره عبارت دی له متبادلو نباتاتو څخه چي شاید په عوض یي(رومیان، کچالو، خربوزه او نور) چي شاید وکرلی شي.
په دواړو صورتونو کي د دوه ټاکنو په منځ باید د قضیو انتخاب صورت ونیسي. په هغه صورت کي چي تاسي اخري لاسته راوړنه خپله باندې وپوهیږی نو ستاسې تصمیم نیول به ساده او اسان وي، هرڅومره چي تاسې په احتمال توګه زیاتي ګټي د نوور لاسته راوړنو په ټاکلو سره په لاس راوړی عبارت ده له د فرصت له قیمت (opportunity cost) څخه دي.

پام مو وي چي تخصص(**specialization**) د تولید او زیاتو خدمتونو امکان او د هغوي په ټیټ قیمت سرته رسول میسر کوي. ددي مطلب د روښانه کولو لپاره چي ښه روښانه شي او د تخصص مثال د زده کونکو لپاره وړاندې شي، له زده کوکو څخه پوښتنه وکړئ چي په ټولګي کي څو شتونو لرونکو کسانو خپل ویښتان اصلاح کړي دي(شاید چي کم زده کونکي خپل لاسونه پورته کړي مګر اکثریت به یي لاسونه پورته نه کړي) له دي نه وروسته پوښتنه وکړئ چي څو نفر په خپلو کورونو کي داسي نفر لري  چي د دوي ویښتان  اصلاح کوي(زیات لاسونه به پورته شي). له دي نه وروسته پوښتنه وکړي چي ولي اکثره د زده کونکو څخه خپل ویښتان نه دي اصلاح کړي یا نه اصلاح کوي. او د کورنی د غړو پواسطه ویښتان اصلاح کوي. (ځوابونه به سره توپیر یا فرق ولري) بیا هم پوښتنه وکړئ که چیري دوي خپله وکولی شي چي ویښتان اصلاح کړئ البته چي د ویښتانو د اصلاح کولو لپاره مهارت یا وړتیا ته ضرورت شتون لري ترڅو چي ویښتان په درسته توګه اصلاح شي.(د قیچي کولو مهارت، ویښتانو ته شکل ورکول، او داسې نور) له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چي هغوي د ویښتانو د اصلاح کولو لپاره  داسې وړتیاوو یا مهارتونو ته ضرورت لري او که نه؟ ځواب یي حتماً هو وي. پس ددي په حاطر چي د ویښتانو د اصلاح کولو مهارت یا وړتیا حاصله کړل شي نو کوم شیان باید تاسې په کارواچوی او د فرصت مصرف به له څه قراره وي؟( وخت،د زده کړي لپاره پیسي، د ویښتانو د اصلاح کولو لپاره خریداري او نور وسایل) د فرصت قیمت(**opportunity cost**) عبارت له دی نه دي چي زده کونکي دویښتانو د اصلاح د زده کولو په عوض په خپلو پیسو او وخت سره څه کول؟

**دوهمه موخه یا هدف :** د فرصت د قیمت تشریح کول (opportunity cost) .

**وړاندیزشوی مسله:**  د نسبي غوره والی منابع (comparative advantage) کومي دي؟

**(د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)**
۱ - خلک او هیوادونه دواړه کولی شي چي د شیانو په تولید کي د تخصص په کارولو سره زیات مصرف د هغه شی په خاطر وکړي چي هغوي نسبي غوره والی لري او وروسته له نوور سره راکړه ورکړه وکړي ترڅو هغه شیان چي په مصرف یي رسوي، په لاس راوړي. مختلف هیوادونه نسبي غوره والی د مختلفو شیانو په تولید کي لري. دري عمده دلیلونه چي په نسبي غوره والی کي شتون لري عبارت دي له:
**(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاید)**

**الف )**د تکنالوژۍ په برخه کي پانګه اچول. ځني هیوادونه د تحقیقاتو، تکنالوژۍ په برخه کي(د اومه موادو د تولید وسایل، ساختمانونه او نور له مصرفي شیانو سره په مقایسه کي) چي نوي تکنالوژي یو له بل سره وصل کوي. تکنالوژي د کارګر انتفاع لوړه کړي دي.

**(د پاورپواینټ ۱۰ شمیره سلاید)**

**ب )** د تولید د نسبي عواملو تامین او تدارک- هیوادونه شاید چي په یوه یا زیات ساحو کي په شمول د لاندې ساحو لږ یا ډیر ممناعتونه ولري:

- طبیعي منابع – د کښت او کار لپاره ځمکه، د اومه غوړیو ( crude oil)ځآی په ځآی کول او طبیعي ګاز ځآی په ځای کول او د هغه دریابونو یا سیندونو چي د برق د تولید لپاره پ کار وړل کیږي.
- وړتیا لرونکي یا پوه او ماهر کارګر او هغه کارګر چي مهارت نه لري.
- پانګه اچول - دکارخانو اوماشینونو په برخه کي.

**(د پاورپواینټ ۱۱ شمیره سلاید)**

**ج ) د دولت خدمتونه او مقررات.**

1. د ترانسپورت زیربناوي(مواصلات) او مخابرات - لوي لاري، پلونه، هوایي میدانونه، د ساحلي بندرونو نوعي، ټیلفون.
2. خدمتونه - د اکثره خدمتونو او شیانو د تولید او قیمت مصارف متاثره کوي.
3. قوانین او مقررات او قراردونو اجراکول، تولید او کارګر متاثره کوي، محیطي یا د چاپیریال قوانین او معیارونه د تولیداتو قیمت متاثره کوي.

ددي لوست د دې موخې یا هدف د تقویت په خاطر زده کونکو ته درسي مواد وښایاست.زده کونکو ته ووایاست چي هغوي تصمیم لري چي د تجرتي اخري ارقامو په برخه کي د امریکا د متحده ایالاتو او چین هیوادونو په منځ کي تحقیق وکړئ او په دي ترتیب سره تعین کړي چي دا هیوادونه یو له بل سره کوم شیان صادروي او واردوي(ددي امر په تشخیص کولو سره چي د صادر کونکی هیواد د شیانو په تولید کي خپل صادرات د سبي غوره والی قابل کوي) او په دي برخه کي تحقیق صورت نیسي چي کوم شیان واردیږي( ترڅو دا وښودل شي چي صادر کونکی هیواد نسبي برتري لري) زده کونکو ته روښانه کړي چي دا ارقام او معلومات یوازې دشیانو لپاره وي(د صادرولو او واردولو خدمتونه کیدلی چي د معارف، بانکدارۍ، تورزم او نورو مالي خدمتونو بڼه ولري) د **WS: 2-1**کاري صفحه توزیع کړئ او زده کونکي دي د ښوونکی لارښوونه تعقیب کړئ .

د **WS: 2-2**کاري صفحه توزیع کړئ او زده کونکي دي د ښوونکی لارښووني تعقیب کړي.
د **WS: 2-3** کاري صفحه توزیع کړئ او زده کونکي دي د ښوونکي لارښووني تعقیب کړئ .

- **خلاصه یا لنډیز / تکرار :**اشخاص او هیوادونه په هغه وخت کي نسبي غوره والی لري په هغه صورت کي چي د شیانو د تولید او خدمتونو د فرصت نسبت اشخاصو او نورو هیوادونو ته قیمت ښکته وي. د نسبي غوره والی( **comparative advantage**) دري عمده منابع عبارت دي له( د تولید د عمده عواملو زیاتوالی لکه ځمکه او کاریګر. دولتي خدمتونه او مقررات، لکه د خلکو جبري تعلیم او تربیه او د کثافاتو یا ککړتیا کنترولول. د تکنالوژۍ په برخه کي پانګه اچوي یا سرمایه ګذاري .

تکنالوژي عمده دلیل دی چي هیواد په دي برخه کي د نسبي غوره والی لروالی لرونکی دی لکه د فضا اکتشافات، د تجارتي لیو طیارو جوړول. کم پرمختګ کړي هیوادونه او یا هغه هیوادونه چي تازه صنعتي شوي دیمعمولاً خپل نسبي غوره والی د شیانو په تولید کي چي دغیر ماهر کارګرپواسطه شوي،یا کیږي، مشاهده کوي. په داسې حال کي چي صنعتي هیوادونه خپله نسبي غوره والی د شیانو په تولید کي ګوري یا مشاهده کوي چي د شدیدي پانګه اچونې ایجاب کوي. خلک د خپلو شخصي مهارتونو او

ځانګړتیاوو په اساس د نسبي غوره والی لرونکي وي، ځني له دي ځانګړتیاوو څخه کاملاً له نورو اشخاصو سره د ولادت له وخت نه توپیر لري، ولي معمولاً د شخصي پانګه اچونې پواسطه انکشاف کوي(تعلیم او تربیه او زده کړه) خلک او تولید کونکي هیوادونه، مصرف او دژوندانه معیارونه د تخصص په لرلو سره د شیانو په تولید او خدمتونو ته زیاتوالی ورکوي البته د هغه اندازي شیانو او خدمتونو لپاره چې هغوي په هغې کي نسبي غوره والی لري.

**تراجرا کونې لاندې ځآی ورکول:** ترد اجرا لاندي قرار ورکول لپاره کولی شي لاندې فعالیت د زده کونکو په برکي ونیسی: له ضمیمه شوو صفحو څخه استفاده وکړئ.

WS: 2-1صادرات، واردات او نسبي غوره والی د امریکا په متحده ایالاتو او چین کي

WS: 2-2 د نسبي غوره والی نوم ولیکئ.

WS: 2-3خپل نسبي غوره والی کشف کړئ

**ارزیابی:** ارزیابی باید په دي مرکزیت ولري ترڅو چې زده کونکي له دي موخو یا هدفونو سره اشنایي پیدا کړي. مختلفي تګلاري د زده کونکو د ارزیابی لپاره شتون لري، مثلاً د زده کونکو اجرا کول په فعالیتونو کي او یا په دي برخه کي کولی شی چي له نمونه یي ازموینې څخه د زده کونکو لپاره د موخو سره د اشنایی لپاره استفاده وکړئ. په لیکلې بڼه ازموینه له دي سند سره ضم یا پیوسته ارایه شوي.

د تولګي زده کونکي په څلور ګروپونو باندې تقسیم کړئ. زده کونکو ته روښانه کړئ چي هریو ګروپ د کمپنی رول د مشورتي کاروبار رول سرته ورسوي، د هریو ګروپ لومړی وظیفه دا ده ترڅو د خپلي کمپنی لپاره نوم انتخاب کړي او هغې ته انکشاف ورکړي. اوس زده کونکو ته وواياست چي د افریقا هیواد له دي کمپنیو څخه غوښتنه کړي ده ترڅو په دي برخه کي معلومات(presentation) چي مالي (Mali) په څه ډول کولی شي له بین المللي تجارت څخه خپل عواید زیات کړي. د TM: 2-2 لوستي مواد زده کونکو ته وښایاست او د هریو زده کونکی لپاره د لیدنې ور کاپي توزیع کړئ. ددي لپاره چي د مالي هیواد حکومت ته مو قناعت ورکړي وي ترڅو په دي کار کي کمپنی استخدام یا په کار وګماري، زده کونکي باید هغه څه چي په لوست کي یي زده کړي دي له هغي نه کار واخلي او بروشور(brochure) د مالي هیواد د سپارښتونو په برخه کي د روښانتیالپاره ورته انکشاف ورکړي. په معلوماتو کي باید چي د نسبي غوره والی (comparative advantage)تشریح کول او روښانتیا شامله وي، د مالي هیواد د نسبي غوره والی احتمالي منابع، او دا چي په څه ډول سره تخصص کولی شي چي له تجارت څخه د ګټو په لاسته راوړلو کي ګټور واقع شي. زده کونکي کولی شي چي د مالي هیواد په برخه کي خپل تحقیق د انټرنیټ له لاري چي د WS: 2-3 په کاري صفحه کي ذکذ شوی دی پیل کړئ.
TM: 2-1

SOURCES OF COMPARATIVE ADVANTAGE

**دنسبي ګټو منابع**

- **د تکنالوژی په برخه کي پانګه اچول-** ځني هیوادونه د تکنالوژۍ د تحقیقاتو په برخه کي(دتولید وسایل او اومه مواد، ساختمانونه او نور له مصرف شیانو سره په مقایسه یا پرتله کولو) چي نوي تکنالوژي یو له بل سر پیوسته کوي. تکنالوژي د کارګر څخه انتفاع لوړه وړي.
- **د تولید د نسبي عواملو تامین اوتدارک -** هیوادونه شاید چي په نسبي توګه زیاتي یا کمي موانع په یو یا څو ساحو کي په شمول دلاندې ساحو سره ولري:
  - طبئعي منابع - د کښت او کار لپاره ځمکه، د اومه غوړیو ( **crude oil**) ځای په ځآی کول او طبیعي ګاز ځای په ځآی کول، او د سندونو چي د برق د تولید په خاطر په کار وړل کیږي.
  - ماهر یا پوه کاریګر او غیر ماهر یا پوه کاریګر.
  - پانګه اچول – کارخاني او ماشینونو په برخه کي.

**د دولت خدمتونه او مقررات.**

4. د ترانسپورت زيربناوي(مواصلات) او مخابرات - لوي لاري، پلونه، هوايي ميدانونه، د ساحلي بندرونو نوعي، ټيلفون.
5. خدمتونه - د اکثره خدمتونو او شيانو د توليد او قيمت مصارف متاثره کوي.
6. قوانين او مقررات او قراردونو اجراکول، توليد او کارگر متاثره کوي، محيطي يا د چاپيريال قوانين او معيارونه د توليداتو قيمت متاثره کوي.

TM: 2-2

**د مالي هيواد په برخه كي مقدماتي يا لومړني معلومات**

د مالي هيواد د نړۍ له غريبو هيوادونو دجملې څخه دی، چي ٦٥ فيصده دښتي(صحرايي) او نميه دښتي يا صحراوي لري. تقريباً لس فيصده نفوس ددي هيواد د كوچيانو په شكل ژوند تيروي او تقريباً ٨٠ فيصده بشري قوه ددي هيواد په زراعت او كب پالنه كي مصروفه ده. صنعتي فعاليتونه يي متمركز دي په زراعتي پروسو باندې. د مالي هيواد په شديده توګه د خارجي مرستو پوري تړلی دی او د طلا او پنبې د نرخ د نوسان په مقابل كي ډير ضرر مند كيږي(د مالي هيواد عمده صادرات پنبه ده)

- نفوس : ۱۲،۲ ميليون.
    - ۰ – ۱۴ كلن : ۴۷،۱ فيصد يا سلنه
    - ۱۵ – ۶۴ كلن : ۵۰ فيصد يا سلنه
    - ۶۵ او له هغې نه زيات عمر لرونكي: ۳ فيصد يا سلنه.

- دكښت كولو ځمكه : ۳،۸ فيصده (پنبه د مالي هيواد له عمده ترينو تجارتي مالونو څخه ګڼل كيږي)
- الهې وركړي : طلا، فاسفيت، د اوبو برق ، ګرانيت ( د مالي هيواد په كال ۲۰۰۳ كي په حدود د ۵۰ كيلو واټه خالص برق توليد كړی دی) د مالي هيواد د بوكسيت (آلومينيم هيدروكسيد) آرن، قلعی، مس لرونكی دی.
- د باسوادې اندازه : ۴۶،۴ نفوس د مالي هيواد باسواده دی.

)منبع( CIA World Factbook Online: http://www.cia.gov/cia/publications/factbook/geos/ml.html :

WS: 2-1

په امريكا متحده ايالاتو او چين هيوادونو كي صادرات، واردات او نسبي غوره والی( **COMPARATIVE ADVANTAGE**)

په كال ٢٠٠٤ كي د متحده ايالاتو مجموعي تجارت يعني صادرات او واردات د شيانو ددي هيواد چين هيواد ته له ٢٤٥ بيليونو څخه اضافه وو. په ښكاره توګه د امريكا متحده ايالات له چين سره مهمي تجارتي اړيكو ته انكشاف وركړی دی.

نسبي غوره والی(comparative advantage) تيوري يا نظريه د هيوادونو په منځ او اشخاصو په منځ كي تجارت تشريح او روښانه كوي، د دواړو لورو لپاره د تجارتي په فايدي په نامه سره يادېږي كه چير خلک او هيوادونه د محصولاتو په توليد كولو كي تخصص ولري، هغوي كولی شي په كم مصرف سره د هغې فرصت توليد كړي.

خلک او شركتونه په مختلفو هيوادونو كي د خدمتونو او شيانو په توليد كي تخصص لري ترڅو هغه په ښكته قيمت سره توليد كړي، او ځني له دي توليداتو څخه له خلكو او نورو هيوادونو سره معامله كوي. دوي معامله يا اخستل او خرڅول د شيانو لپاره كوي كوم چي خلک او نور هيوادونه كولی شي نسبت هغوي ته په كم قيمت سره توليد شويو ته زياتوالی وركوي او دهغې مصرف هم زياتيري، د ژوند معيارونه په دواړو خواوو كي لوړ ځي.

په دي فعاليت كي تاسې به تحقيق وكړئ چي آيا د نسبي غوره والی تيوري يا نظريه د شيانو خصوصيات چي واقعاً د امريكا او چين هيوادونو په منځ كي په كال ٢٠٠٤ كي يي صورت نيولی وو، تشريح كوي.

وروسته تاسې کوښښ کوئ ترڅو دا زده کړئ چي ولي د ځنيو شيانو قيمت کوم چي په چين کي توليديږي ښکته دی، او د ځنيو شيانو قيمت کوم چي په امريکا کي توليديږي ارزانه او ټيټ دی. په بل عبارت سره تاسې کوښښ کوئ ترڅو چي د نسبي غوره والی منابع د ځنيو شيانو په توليد کي په امريکا او چين کي معلوم کړئ.

کوم جدولونه چي ددي لوست په اخره کي شتون لري، دا ښکاره کوي چي د تجارت پيسو ارزښت په کال ٢٠٠٤ کي د ١٥ شيانو لپاره لوړ کوم چي له امريکا څخه چين ته صادر شوي دي او له چين څخه امريکا ته صادر شوي دي، وي. له معلوماتو نه په استفادي سره چي په جدولونو کي وړاندي شوي دي د لاندې سوالونو د ځوابونو لپاره ګټه واخلئ :

١ - ايا چين مختلف شيان چي امريکا ته يي صادروي نسبت هغه شيانو ته چي له امريکا نه يي واردوي توپير يا تفاوت لري؟ په مشخص ډول سره ووایاست چي د شيانو څو کټګورئ له چين څخه امريکا ته وارد شوي دي چي د وارد شوو شيانو په کټګورئ کي له امريکا نه چين ته نه ليدل کيږي؟

٢ - د شيانو کومي نوعي د امريکا متحده ايالات له چين څخه واردوي؟ او د شيانو کومي نوعي چين معمولاً له امريکا څخه واردوي؟

٣ - اوس نو تاسې فکر وکړئ چي دا مختلف شيان په څه ډول سره توليديږي؟ د مثال يا بيلګي په توګه کوم شيان جوړ شوي دي، يا کومي منابع په هغې کي په مصرف رسيدلی دي په هغه صورت کي چي هغه توليديږي. د شيانو کومه نوع د کاريګر زيات مهارت ته اړتيا لري نسبت نورو موادو ته؟ د کومونوعو شيانو توليد تکنالوژئ ته زياته اړتيا يا ضرورت لري؟(مثلاً ولډينګ چي د کمپيوټر پوسطه کنټروليږي) کوم شيان په عامه توګه په چين کي توليديږي؟ او کوم شيان په عام ډول سره په امريکا متحده ايالاتو کي توليديږي؟

۴ - لاندې جمله بشپړه کړئ. يوه عامه خبره ده چي امريکا نسپت چين ته د محصولاتو په توليد کي چي د ______________ ډير استعمال پواسطه نسبي غوره والي لري او چين د محصول په توليد کي چي ډير______________ استعمال لري نسبت امريکا ته نسبي غوره والی لري.

**ادامهWS: 2-1**

| | | |
|---|---|---|
| په کال ٢٠٠٤ کي له چين څخه امريکا ته ورادات **5-digit End Use Code** ( د هر شي په مخکې ښودل شوي دي) ارزښت د صادراتو لپاره په زرونو افغانۍ وي. | | |
| | **End-Use Code** | ارزښت په افغانۍ |
| 1 | -21301 کمپيوټري لوازم، او د هغې پرزي او وسايل | 1,130,680,148 |
| 2 | -41120 د لوبو شيان، د سپورت شيان او بايسکلونه | 847,933,819 |
| 3 | -41050 ساعتونه، د انتقال وړ تايت رايترونه او د کور د لوبو شيان | 820,035,276 |
| 4 | -40020 د کور لوازم او منسوجات | 501,436,978 |
| 5 | -21300کمپيوټرونه | 475,463,648 |
| 6 | -41000 موبل، د کور شيان او سيدونه | 459,247,388 |
| 7 | -40040 خرمينه د پښو پټوني، رابر او يا نور مواد | 398,357,577 |
| 8 | -41200 تيليويژون، آخذي او ويډويي وسايل | 373,928,924 |
| 9 | -41030 د اشپزخانې او کور شيان | 279,211,808 |
| 10 | -21400 مخابراتي تجهيزات | 268,324,292 |
| 11 | -41210 راډيو، فوتوګرافونه، ټيپونه او نور د سټريو لوازم | 259,209,061 |
| 12 | -40030 غير منسوجاتي تيکي او د کور شيان | 219,329,296 |
| 13 | -20005 برقي اوزار او پرزي | 218,521,412 |

| | | |
|---|---|---|
| په کال ٢٠٠٤ کي د امريکا صادرات چين ته **5-digit End Use Code** ( د هر شي په مخکې ښودل شوي دي) ارزښت د صادراتو لپاره په زرونو افغانۍ وي. | | |
| | **End-Use Code** | ارزښت په افغانۍ |
| 1 | – 21320نيمه هادی اجسام | 138,981,731 |
| 2 | -00100 سويا | 110,153,800 |
| 3 | -21180صنعتي ماشينونه | 90,406,476 |
| 4 | -22000د لاس صنعت | 75,509,263 |
| 5 | -12540عضوي او کيمياوي مواد | 68,224,337 |
| 6 | -10000 اومه يا خامه پنبه | 67,698,550 |
| 7 | -12500 پلاستيکی مواد | 65,355,592 |
| 8 | -21301د کمپيوټر لوازم | 50,623,250 |
| 9 | -21400مخابراتي وسايل | 48,284,502 |
| 10 | -21160 د ازمايښت د کنترول اسباب او اندازه کول | 47,120,354 |
| 11 | -21100صنعتي انجينونه | 40,174,620 |
| 12 | -20005برقي شيان | 38,810,339 |
| 13 | -21120 د فلز کارۍ د ماشين | 30,916,885 |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| 14 | 40050-<br>د سپورت سامان او د<br>اردو پوښاک، بوټونه او<br>درمل | 182,114,554 |
| 15 | 40000<br>پوښاک، د کور شیان<br>او پنبه | 182,044,503 |
| | د امریکا د وراداتو مجموعه له<br>چین څخه په کال ۲۰۰٤ کي | **6,615,838,684** |

| | | |
|---|---|---|
| | اسباب | |
| 14 | 21610-<br>طبی وسایل | 27,645,717 |
| 15 | 12770-<br>نور صنعتي مواد | 24,548,464 |
| | د امریکا د صادرتو مجموعه<br>چین ته په کال ۲۰۰٤ کي | **925,453,880** |

FTDWebMaster, Foreign Trade Division, U.S. Census Bureau, Washington, D.C. 20233منبع

WS TEACHER: 2-1
په امریکا متحده ایالاتو او چین کي صادرات، واردات او نسبي غوره والی( **COMPARATIVE ADVANTAGE**)

**لارښوونه:**

د WS: 2-1کاري صفحه د زده کونکو لپاره توزیع کړي او له زده کونکو څخه غوښته وکړئ ترڅو لومړنی پاراګراف مطالعه کړي. مخکې له دي چي زده کونکو ته پنځه لس دقیقي وخت ورکړئ ترڅو د سوالونو لپاره ځوابونه برابر کړي، په مختصره توګه زده کونکي د امریکا او چین د تجارت د اندازې، چټکتیا رشد او انکشاف په برخه کي ورسره بحث وکړئ زده کونکو ته ووایاست چي په کال ۲۰۰٤ کي چین د امریکا د راکړي ورکړي لوي او دریم هیواد وو( زده کونکي شاید چي ولولي ترڅو پوه شي چي د امریکا لوي تجارتي شریکان څو ک دي: کاناډا ۳۲ تریلیونه مبلغ د ۲۰۰٤ کال د مجموعي تجارت لپاره دوهم د هغې مکسیکو ۱۲،۵ پریلیونه افغانۍ په مجموع کي د ۲۰۰٤ کال تجارت چین، جاپان ۸،۷ پریلیونه افغانۍ او جرمني ۵ تریلیونه افغانۍ) له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو دوه جدوله چي د نوټ په اخر کي شتون لري له هغې نه استفاده وکړئ ترڅو چي څلور سوالونو ته ځوابونه ووایي. البته هرکس په انفرادي شکل سره کار کوي.
ټولګی د سوالونو لپاره د بحث په لوري سوق کړئ.

۱ - - ایا چین مختلف شیان چي امریکا ته یي صادروي نسبت هغه شیانو ته چي له امریکا نه یي واردوي توپیر یا تفاوت لري؟ په مشخص ډول سره ووایاست چي د شیانو څو کټګورۍ له چین څخه امریکا ته وارد شوي دي چي د وارد شوو شیانو په کټګورۍ کي له امریکا نه چین ته نه لیدل کیږي؟

(تاسې تشریح کړئ چي د امریکا متحده ایالات چین ته کوم شیان صادروي، او چین یي له امریکا څخه واردوي او ددي کار برعکس. وروسته د زده کونکو لپاره روښانه کړئ چي دا شیان چي دا دوه هیوادونه یي صادر او واردوي په عام توګه ډیر توپیر لري. یوازې دوه کټګورۍ - ۲۱۳۰۱ ، د کمپیوټرونو لوازم او ۲۱٤۰۰ مخابراتي تجهیزات - په دواړو تجارتي لستونو کي د دواړو هیوادونو لیدل کیږي.)

۲ - د شیانو کومي نوعي د امریکا متحده ایالات له چین څخه واردوي؟ او د شیانو کومي نوعي چین معمولاً له امریکا څخه واردوي؟

( د امریکا متحده ایالات په پراخه پیمانه ماشین الات، زراعتي شیان، کمپیوټرونه، انجینونه او تجارتي طیاري چین ته صادروي. چین د لوبو شیان، بوټونه او وړي اثاثي متحده ایالاتو ته ګسیل کوي.)

3 - کوم نوعه شیان په چین کي تولیدیږي؟ او کوم نوعه شیان د امریکا په متحده ایالاتو کي تولیدیږي؟

( د امریکا متحده ایالات معین او ټاکلي نوعي د زراعیت شیانو تولیدوي او صادروي یي – په شمول د پنبه او سایوبین – لوي ماشین الات، کمپیوټرونه، انجینونه او طیاري. چین منسوجات، د کور سامانونه، بوټونه، د لوبو شیان، د برق واړه اوزار او د اشپزخانې سامانونه تولیدوي او صادروي یي)

له زده کونکو سره مرسته وکړئ ترڅو ددي امر په منځ کي توپير وکړی چي تعليم او مهارت د کارمندانو لپاره چي کمپيوټرونه او طياري جوړوي د هغه چا د مهارتونو سره چي د لوبو شيان جوړوي، بوټان جوړوي او جاکټونه او نور جوړوي کاملاً توپير لري.

د 2-1 :TMلوستي يا درسي موادو ته بيا کتنه وکړئ. او له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چي کومي دري منابع د امريکا پر چين باندې د نسبي غوره والی مسووليت لري؟( لويه پانګه اچونه / تکنالوژي) کومي منبع د چين د نسبي غوره والي په امريکا باندي دي(لکه بشري زياته او لويه قوه)

(له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ چي لاندې جمله بشپړه کړي: ډيره عامه خبره ده چي د امريکا متحده ايالات پرچين باندې يي نسبي غوره والی دا دی چي خپل توليدي محصولات زياتره (په ډيرو ماهرو کارګرانو او زياتي تکنالوژي په استعمال سره کوي لکه کمپيوټرونه، نيمه هادي اجسام او صنعتي انجينونه توليدوي) او د چين نسبي غوره والی په امريکا دا دی چي چين له ډير کم مهارت لرونکو کارکونکو او کمي تکنالوژۍ څخه کار اخلي لکه بوټونه او منسوجات)

له زده کونکو څخه وغواړئ ترڅو هغه عوامل تشخيص او بحث پري وکړئ چي دا توپيرونه د تکنالوژۍ عامل ترطبقي لاندې ورته قرار ورکوي.

(زده کونکي بايد د چين د نفوس اندازې ته اشاره وکړي چي چين د ډيرزيات لوي نفوس لرونکی دی په دي معني چي کارګران چي غيرماهره دی د ډير کم معاش په مقابل کي په کال ګماري. زده کونکي بايد دا موضوع هم درک کړي چي چين په دي اخرو کي صنعتي شوی دی البته له امريکا سره په مقايسه يا پرتله چين د ښکته سطحې دتکنالوژۍ او سرمايي په لرلو سره کم کار کوي د کارګران لاسته راوړنه په چين کي کمه ده )

Move on to WS: 2-2.

د نسبي غوره والی نوم اخستل (**COMPARATIVE ADVANTAGE**)

لکه ځرنګه چي تاسو په مخکنيو فعاليتونو کي مشاهده کړي، د يوه هيواد د تجارتي خصوصياتو تحليل کول د نسبي غوره والی(**COMPARATIVE ADVANTAGE**) د لاري په پيژندګلو کي د يو هيواد سره مرسته کوي. د مثال په توګه د امريکا متحده ايالات چين ته کمپيوټرونه او نيمه هادي اجسام صادروي. په دي معني چي متحده ايالات دنيم هادي اجسام په توليد کي نسبي غوره والی لري ددي لپاره چي دا نوع توليدات لوړي تکنالوژۍ ، ماهر کارګرانو، لوي پانګه اچونې ته په منابعو کي اړتيا لري چي دا ټول د هغه نتايجو او پروګرامونو تحقيقاتي پايله ده چي له مصرفه ډکي وي.

البته داسې هيوادونه له هيوادونو سره زياته راکړه ورکړه لري. هغه جدول چي د دي لوست په اخره کي تهيه شوی دی ۱۲ هيوادونو ته راجع ارقام چي له څلورو هيوادونو (رمز لرونکو) نه وادر شوي دي، چي البته په شکل د الف، ب، ج او د هيوادونو سره لست شوي دي. ددي لپاره چي لاندي سوالونو ته ځواب ورکول شي د جدول له معلوماتو او ارقامو څخه استفاده وکړئ.

پـه عامه اصطلاح کي آيا ورته شيان له څلور واړو هيوادونو څخه وارديږي؟ په خاصه توګه، پنځه لوړي کټګورۍ د څلورو واړو هيوادونو څخه وارديري کومي دي؟( پنځه لوړي کټګورۍ د هرو څلورو هيوادونو لپاره په لاندې جدول کي لست کړئ)

| (الف) هيواد | (ب) هيواد | (ج) هيواد | (د) هيواد |
|---|---|---|---|
| 1. | 1. | 1. | 1. |
| 2. | 2. | 2. | 2. |
| 3. | 3. | 3. | 3. |
| 4. | 4. | 4. | 4. |
| 5. | 5. | 5. | 5. |

له هغه معلوماتو نه په استفادي سره چي د لوست په اخره کي برابر شوي دي د لاندې دري برخو ارزيابي کول د هريو هيواد لپاره(رازلرونکي) ، (الف، ب، ج، د) لپاره تکميل يا بشپړه کړئ:

- لومړۍ حلقه د بوليټ (bullet) په چاپيره شکل سره چي په غوره ډول کولی شي د همغه هيواد صادرات تشريح کړی، وباسئ.
- له دي وروسته هغه منبع چي ډير امکان لري نسبي غوره والی د هغه هيواد وي انتخاب کړئ
- بالاخره، هڅه او فکر وکړئ چي کوم هيواد(راز لرونکی) به وي. تاسې شايد چي په مشخصه توګه هيواد(راز لرونکی) درک نه کړی شی ولي تاسې په قوي احتمال سره هغه هيوادونه چي د نسبي غوره والي ورته نوعي او د هغې مربوطه منابع لري تشخيص کولی شی.

(الف) هيواد
له (الف) هيواد څخه شيان صادر شوي دي(په هرستون کي يوه حلقه تاوه کړئ)

| | | |
|---|---|---|
| • کمي پانګه اچونې ته اړتیا لري.<br>• ثابتي او لوي پانګه اچونې ته اړتیا لري. | • د کارګرانو کم مهارت ته اړتیا لري.<br>• هغه کارګرانو ته اړتیا لري چي لوړ مهارت ولري.<br>• نیمه ماهرو او پوره ماهرو کارګرانو ته اړتیا لري. | • اکثره زراعتي وي.<br>• اکثره صنعتي/ تکنالوژي وي.<br>• له دواړو څخه مخلوط یا ګډ وي. |

د (الف) هیواد دنسبي غوره والی منبع شاید چي په لاندې توګه سره وي:

- **د الهي ورکړو او فیرزوینو عامل :** هیواد کیدی شي چي یوه زیاته اندازه ځمکه په ټیټ قیمت سره ولري، چي نرخي یي ښکته وي او یا دا چي طبیعي زیاتي منابع لکه تیل ولري او یا هم شاید د شیانو لپاره چي صادروي یي مساعد اقلیم ولري.
- **د کمه مهارته موجوده کارګرانو زیاتوالی:** هیواد شاید چي زیات نفوس ولري، صادر شوي شیان په اسانی سره په ښکته تکنالوژی سره ترلاسه کړي.
- **Capital investment** ثابته پانګونه یا سرمایه ګذاري:تحقیقات او انکشاف او لاسته راوړنه زیاتوي، صادر شوي شیان ډیر لوړي تکنالوژی ته اړتیا لري.

زه فکر کوم چي د (الف) هیواد عبارت دی له ______________________________

(ب) هیواد

له (ب) هیواد څخه شیان صادر شوي دي { په هریو ستون کي ویه حلقه تاوه کړئ}

| | | |
|---|---|---|
| • کمي پانګه اچونې ته اړتیا لري.<br>• ثابتي او لوي پانګه اچونې ته اړتیا لري. | • د کارګرانو کم مهارت ته اړتیا لري.<br>• هغه کارګرانو ته اړتیا لري چي لوړ مهارت ولري.<br>• نیمه ماهرو او پوره ماهرو کارګرانو ته اړتیا لري. | • اکثره زراعتي وي.<br>• اکثره صنعتي/ تکنالوژي وي.<br>• له دواړو څخه مخلوط یا ګډ وي |

د (ب) هیواد دنسبي غوره والی منبع شاید چي په لاندې توګه سره وي:

- **د الهي ورکړو او فیرزوینو عامل :** هیواد کیدی شي چي یوه زیاته اندازه ځمکه په ټیټ قیمت سره ولري، چي نرخي یي ښکته وي او یا دا چي طبیعي زیاتي منابع لکه تیل ولري او یا هم شاید د شیانو لپاره چي صادروي یي مساعد اقلیم ولري.
- **د کمه مهارته موجوده کارګرانو زیاتوالی:** هیواد شاید چي زیات نفوس ولري، صادر شوي شیان په اسانی سره په ښکته تکنالوژی سره ترلاسه کړي.
- **Capital investment** ثابته پانګونه یا سرمایه ګذاري:تحقیقات او انکشاف او لاسته راوړنه زیاتوي، صادر شوي شیان ډیر لوړي تکنالوژی ته اړتیا لري.

زه فکر کوم چي د (ب) هیواد عبارت دی له ______________________________

**(ج) هیواد**

له (ج) هیواد څخه شیان صادر شوي دي { په هریو ستون کي ویه حلقه تاوه کړئ}

| | | |
|---|---|---|
| • كمي پانګه اچونې ته اړتيا لري.<br>• ثابتي او لوي پانګه اچونې ته اړتيا لري. | • د کارګرانو کم مهارت ته اړتيا لري.<br>• هغه کارګرانو ته اړتيا لري چي لوړ مهارت ولري.<br>• نيمه ماهرو او پوره ماهرو کارګرانو ته اړتيا لري. | • اکثره زراعتي وي.<br>• اکثره صنعتي/ تکنالوژي وي.<br>• له دواړو څخه مخلوط يا ګډ وي |

د (ج) هيواد دنسبي غوره والی منبع شايد چي په لاندې توګه سره وي:

- **د الهي ورکړو او فيرزوينو عامل :** هيواد کيدی شي چي يوه زياته اندازه څمکه په ټيټ قيمت سره ولري، چي نرخي يي ښکته وي او يا دا چي طبيعي زياتي منابع لکه تيل ولري او يا هم شايد د شيانو لپاره چي صادروي يي مساعد اقليم ولري.
- **د کمه مهارته موجوده کارګرانو زياتوالی:** هيواد شايد چي زيات نفوس ولري، صادر شوي شيان په اسانۍ سره په ښکته تکنالوژۍ سره ترلاسه کړي.
- **Capital investment** ثابته پانګونه يا سرمايه ګذاري:تحقيقات او انکشاف او لاسته راوړنه زياتوي، صادر شوي شيان ډير لوړي تکنالوژۍ ته اړتيا لري.

زه فکر کوم چي د (ج) هيواد عبارت دی له ______________________________________

**(د) هيواد**

له (د) هيواد څخه شيان صادر شوي دي { په هريو ستون کي ويه حلقه تاوه کړئ}

| | | |
|---|---|---|
| • كمي پانګه اچونې ته اړتيا لري.<br>• ثابتي او لوي پانګه اچونې ته اړتيا لري. | • د کارګرانو کم مهارت ته اړتيا لري.<br>• هغه کارګرانو ته اړتيا لري چي لوړ مهارت ولري.<br>• نيمه ماهرو او پوره ماهرو کارګرانو ته اړتيا لري. | • اکثره زراعتي وي.<br>• اکثره صنعتي/ تکنالوژي وي.<br>• له دواړو څخه مخلوط يا ګډ وي |

د (د) هيواد دنسبي غوره والی منبع شايد چي په لاندې توګه سره وي:

- **د الهي ورکړو او فيرزوينو عامل :** هيواد کيدی شي چي يوه زياته اندازه څمکه په ټيټ قيمت سره ولري، چي نرخي يي ښکته وي او يا دا چي طبيعي زياتي منابع لکه تيل ولري او يا هم شايد د شيانو لپاره چي صادروي يي مساعد اقليم ولري.
- **د کمه مهارته موجوده کارګرانو زياتوالی:** هيواد شايد چي زيات نفوس ولري، صادر شوي شيان په اسانۍ سره په ښکته تکنالوژۍ سره ترلاسه کړي.
- **Capital investment** ثابته پانګونه يا سرمايه ګذاري:تحقيقات او انکشاف او لاسته راوړنه زياتوي، صادر شوي شيان ډير لوړي تکنالوژۍ ته اړتيا لري.

زه فکر کوم چي د (د) هيواد عبارت دی له ______________________________________

د څلورو هيوادونو(رازلرونکو) څخه په کال ٢٠٠٤ کي واردات
**5-digit End Use Code**

( د هريو شی په مخامخ په نښه کړل شوي دي)
د صادراتو لپاره ارزښت په زرونو افغانۍ وي.

| (الف) هیواد | | (ب) هیواد | | (ج) هیواد | | (د) هیواد | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| End-Use Cod د کارونې راز | ارزښت په افغانۍ سره | End-Use Cod د کارونې راز | ارزښت په افغانۍ سره | End-Use Cod د کارونې راز | ارزښت په افغانۍ سره | End-Use Cod د کارونې راز | ارزښت په افغانۍ سره |
| 40000- پوښاک د کور سامان او پنبه | 92,466,722 | 30000- د مسافر وړونکو نوي او استعمال شوي موټرونه | 962,521,937 | 42100- قیمته تیګي، پري کړی شوي الماس او نه پري شوي الماس | 135,934,051 | 10000- غوړی یا اومه یا خام تیل | 715,376,362 |
| 40020- پوښاک او د کوري شیان او نور شیان منسوجات | 35,268,157 | 40100- طبي تدارکات، غاښونه او فارمسي. | 277,408,918 | 40000- پوښاک او د کور پنبئي سامان | 107,567,484 | 10030- ګاز او پترول | 23,718,632 |
| 00120 یخ کړی شوي میوې او جوسونه | 8,273,526 | 30230- نوري پرزي او لوازم | 156,181,903 | 41310- ګاڼه، ساعت او ګوتي | 70,679,018 | 10010- د تیلو غوړي | 14,837 |
| 01000 کب، حلزون او صدف | 6,264,743 | 21180- صنعتي ماشین آلات | 148,330,529 | 40020- پوښاک او د کوري شیان او نور شیان منسوجات | 32,961,619 | 10020- د پطرولیم تولیدات | 8,955,687 |
| 14270 غیر پولي سره زر | 3,569,494 | 21610- ساینسي تجهیزات، طب شیان او د شفاخاني شیان | 140,792,281 | 14100- اوټو ماشین ژرنده او نیمه تولیدات | 27,391,997 | 10110- طبیعی ګاز | 3,281,248 |
| 40140- نور تولیدات( احساسات، هنر او ښوونځئ) | 3,181,918 | 30200- انجن او د انجن پرزي | 115,483,091 | 41040- قالینچه او نور منسوجات د خرځ په خاطر | 23,951,537 | 00200- خوراکي مواد او غذایي دانه | 268,995 |
| 00000- کافی شنه | 2,014,743 | 20005- د برقي اسبابو پرزي | 87,846,316 | 40100- د غاښونو د طب او فارمسي تدارکات | 21,890,818 | 12050- طبیعي رابر او نور شیان چي ژاولې ته ورته وي | 225,431 |
| 40050- | 1,651,19 | 21150- | 75, | 01000- | 19, | 41320- | 152, |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د سپورټ وسایل، پوښاک ، اردوځآی، بوټونه او درمل | 5 | چراغونه او دکاغذ ماشین | 478, 123 | کب او حلزون | 257, 816 | د ګرافي تصویرونه ، انتیک ، او نور د حصول وړ شیان | 968 |
| 41000- موبل دکور شیان او سیدونه | 1,537,06 0 | 21160- دا ندازه کولو الات، ازمایښتي او کنترول | 74, 218, 666 | 12540- عضوي کیمیاوي مواد | 13, 815, 762 | 00010- لوبیا او کاکاو | 64,422 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 00130- سبزیجات او تدارکات | 929, 823 | 21100- صنعتي ماشینونه، پمپونه، کمپیوټرونه او جنراتورونه | 73, 442, 710 | 13020- تیګه، شګه، سیمنټ او چونه | 12, 415, 871 | 00170- او چای نوعي او نور | 47,30 0 |
| 40010- پوښاک او دکول پشمي شیان | 479, 811 | 50030- کم ارزښت لرونکي محمولونه | 70, 336, 146 | 00140-n مغزباب | 12, 274, 964 | 16050- مصنوعي رابر، کارک لرګی، سریښ او ژاوله | 43,27 9 |
| 00020- بوره، ګني او بوره او چغندر | 472, 148 | 12540- مواد کیمیاوی عضوی صنعتی | 66, 834, 237 | 12070 تنباکو، موم او له غوړیو خالي غذا یا خوراکه | 9,785 ,897 | 01000- کب او حلزون | 35,52 2 |

منبع: FTDWebMaster, Foreign Trade Division, U.S. Census Bureau, Washington, D.C. 20233 :

**د نسبي غوره والی نوم واخلئ لارښوونه:**

کاري صفحه د زده کونکو لپاره توزیع کړئ. او زده کونکو ته روښانه کړئ چي هغوي اوس د څلورو هیوادونو(راز لرونکو) تجارتي ارقالم ازمایښت لاندې ونیسي. کوم جدول چي د نوټ په اخره کي تهیه شوی دی د لویو هیوادونو ښودونکی دی چي د امریکا متحده ایالات له هغوي نه شیان وارد کړي دي. څرنګه چي زده کونکي د WS: 2-1په کار صفحه کي زده کړي دهي چي یو هیواد شیان صادروي په هغه صورت کي جي د هغې په تولید کي نسبي غوره والی شتون ولري. او له هغې جدولونو نه په استفادې سره چي د WS: 2-2 کاري صفحې په اخره کي ځآی لري له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو سوالونو ته ځوابونه ارایه کړي.

1. آیا د امریکا متحده ایالات عني شیان له هیوادونو(راز لرونکو) څخه واردوي؟

( نه هیڅ کله هم نه یوه اندازه مشابهتونه شتون لري د مثال په توګه د الف هیواد او ج هیواد په منځ کي اکثریت توپیرونه دي)

2. د صادراتي شیانو پنځه عمده کټګورۍ د څلورو هیوادونو کومي دي؟

| (الف) هیواد | (ب) هیواد | (ج) هیواد | (د) هیواد |
|---|---|---|---|
| 1. -40000<br>پوښاک او د کور پنبیي شیان | 1. -30000<br>د مسافر وړنکو لپاره نوي او استعمال موټرونه | 1. -42100<br>قیمته تیګي، پري کړی شوي الماس او نه پري شوي الماس | 1.-10000تیل یا اومه یا خام غوړي |
| 2. -400200<br>پوښاک او دنساجي نور شیان او سامانونه | 2. -40100 طبي، غاښونه او فارمسي | 2. -40000<br>پوښاک او د کور پنبیي شیان | 2.-10030<br>مایعات او د پطرولیم ګاز |
| 3. -00120<br>یخ کړی شوي میوي او جوسونه | 3. -30230<br>پرزي او نور لوازم | 3. -41310<br>ګاڼه (ساعتونه، ګوتي او نور) | 3.10010-fuel oil<br>غوړي باب |
| 4. 01000-fish and shellfish | 4. 21180-other industrial machinery | 4. 40020<br>پوشاک و اجناس منسوجاتی خانه | 4.-10020<br>تولیدات دیگر پطرولیم |
| 5. -14270<br>غیر پولی سره زر | 5. -21610<br>ساینس نور تجهیزات، طبي او شفاخانئي | 5. -14100<br>اوټو او فلزي اسباب او نیمه تولیدات | 5.-10110<br>طبیعی ګاز |

کله چي زده کونکو د WS:2-2کاري صفحه مکمله کړه نو د  TM:2-1 درسي مواد د بیا ځل لپاره هغوي ته وښایاست او له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو د نسبي غوره والی مخلتفي منابع د هریو هیواد لپاره په  .WS: 2-2  کاري صفحه کي ذکر شوي په نظر کي ونیسي. له هغوي نه وغواړئ که چیري د ټولو هیوادونو (رازلرونکو) د هویت په برخه کي فکر کولی شي. حتي که چیري زده کونکي درست هیواد په باره کي فکر نه شي کولی، تاسې یادداشت کړئ چي آیا هغوي د هغې توانایي لرله ترخو ورته هیواد په هکله فکر وکړي یعني هغه هیواد چي نسبي غوره والی او صادراتي ځانګړتیاوي یي سره ورته وي .

| **د نسبي غوره والی منبع یا سرچینه** | **هغه شیان چي له هیواد نه د امریکا متحده ایالاتو ته صادریږي** | | | **" راز لرونکی" هیواد** |
|---|---|---|---|---|
| الهي ورکړه ( سره زر، کب )  او د ماهر کارګرانو شته والی( د پنبي پوښاکي تولید ) | لږخه ثابتې پانګې ته اړتیا لري | کم مهارت لرونکو کارګرانو ته اړتیا لري | د صنعتي او زراعتي شیانو مخلوط یا ګډ حالت | **هیواد (الف)** |
| ثابته پانګه ( اتموبایل او صنعتي ماشینونه | ثابتي پانګې ته په ډیره پیماني سره اړتیا لري | د ډیر مهارت لرونکو کارګرانو لپاره اړتیا لري | اکثره صنعتي او د هغي شیان د ډیري لوړي تکنالوژۍ لرونکي دي | **هیواد (ب)** |
| د الهي ورکړو عوامل(الماس) او د کم مهارته کاګرانو زیات شتوالی( د پنبې د کالیو تولید | لږخه ثابتې پانګې ته اړتیا لري | کم مهارت لرونکو کارګرانو ته اړتیا لري | د صنعتي او زراعتي شیانو مخلوط یا ګډ حالت | **هیواد (ج)** |
| د الهي ورکړي عامل (تیل) | لږخه ثابتې پانګې ته اړتیا لري | کم مهارت لرونکو کارګرانو ته اړتیا لري | اکثره طبیعي منابع لري | **هیواد (اد)** |

WS: 2-3

**خپل نسبي غوره والی کشف کړئ**

اکثریت د کارګرانو د شیانو په تولید کي یا د خدمتونو په سرته رسولو کي تخصص لري، دوي د خپلونسبي غوره والوڅخه ګټه اخلي. ټول اشخاص مختلفي تجربي او مهارتونه لري، (د اقتصاد علما یا پوهان ورته انساني سرمایه یا پانګه وایي)، او اشخاص کولی شي چي خپل نسبي غوره والی د انساني سرمایي سره په مطابقت ورکولو د مخصوصو خبرو په کولو چي انساني سرمایه یي په کار اچولی وي، پیدا کړي.

ستاسې نسبي غوره والی چیرته او څه دی؟ کوم یو خاص مهارت یا خاصه بشري سرمایه تاسې لرۍ(یا څه غواړۍ چي د هغې په نتیجه کي تعلیم په لاس راوړۍ) چي شاید تاسې د کسب او تخصصي مسلک په لوري رهبرکړي؟ د کاروبار امرین د مشخصو صفتونو او ځانګړتیاوو په لرلو، تخنیکي مهارتونه، عمومي مهارتونه او د کارمندانو ښه شهرت په نظر کي نیسي، لکه هڅونه او دي ته میل درلودل چي نوي کارونه او وظیفي قبولي کړي. او په غیر له شکه ستاسي علاقه درلودل هم اهمیت لري.

یوه تګلاره یا لاره چي تاسې سره د نسبي غوره والی په پیداکولو کي مرسته کوي عبارت ده له ستاسې د موجودۍ د شخصي مهارتونو د لست له تکمیل کولو څخه، لکه د بشري سرمایي د موجودۍ لست(Human Capital Inventory) چي په لاندې توګه ترتیب شوی دی. لاندې جدول د خپل ځآن لپاره ډک کړئ، تاسې خپل ځانه ته په څۀ ډول سره ګورئ البته هغه مهارتونه چي دتعلیم او فعلي تربي په نتیجه کي مو د وظیفي له پیله د مخه په لاس راوړۍ هغه هم په نظر کي ونیسئ.

Human Capital Inventory **(د انساني سرمایي یا پانګې د موجودۍ لست)**

| **مشخصات یا ځانګړتیاوي/ مهارتونه** | **په جدي ډول مخالف** | **مخالف** | **موافق** | **قوي موافق** |
|---|---|---|---|---|
| زه په شفاهي توګه د افهام او تفهیم مهارت لرم | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| زه په لکیلې توګه د افهام او تفهیم مهارت لرم | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| I am good at math. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| زه د کمپیوټر قوي مهارت لري. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| زه د تحقیق په برخه کي قوي مهارتونه لرم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| په عمومي صورت سره په چټکه توګه زده کړه کوم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| زه د شخړي د حل قوي مهارتونه لري یا د ستونزي حل لرم/ د ازمایښت شوي تحقیق مهارتونه. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| زه د ژوند د موضوع ګانو په رابطه د قوي فکر کولو مهارتونه لرم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| له نورو سره د ښې وجې له مخې کار کولی شي. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| که یوازې کار وکړم نو د خپل کار څخه هم خوند اخلم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| د قوي رهبرۍ د مهارتونو درلودونکی یم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| با مشتریان به شیوه خوب کار کرده میتوانم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| له مشتریانو سره د وخت ښه مدیریت مهارت لرم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |
| ښه پلان جوړونکی یم. | **په جدي ډول مخالف** | مخالف | موافق | **قوي موافق** |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| قوي موافق | موافق | مخالف | په جدي ډول مخالف | دلويو پروژو په مديريت کي ښه يم. |
| قوي موافق | موافق | مخالف | په جدي ډول مخالف | زه نور خلک د فشار لاندې حالت کي هم اداره کولی شم. |
| قوي موافق | موافق | مخالف | په جدي ډول مخالف | زه يو انعطاف قبلونکی شخص يم |
| قوي موافق | موافق | مخالف | په جدي ډول مخالف | زه د عالی ابتکار استعداد لري. |
| قوي موافق | موافق | مخالف | په جدي ډول مخالف | زه يو مشتاق او حرکت کونکی انسان يم |
| قوي موافق | موافق | مخالف | په جدي ډول مخالف | په ځان باندې ډير اعتماد لرم. |

دهغه کمپيوټر پواسطه چي د انټرنيت سره وصل وي د بشري سرمايي د موجودي لست تراستعمال لاندې ونيسئ ترڅو تشخيص شي چي کومه نوعي وظيفي او کسبونه په http://www.bls.gov/k12/azlist.htm کي لست شوي دي البته وظيفه يا کسب چي تاسې له هغې سره علاقه لرئ او مهارت يي لري. کم ترکمه شپږ وظيفو لپاره هڅه وکړئ ترڅو د جدول ارقام تکميل کړئ.

| تاسې کوم غوښتل شوي مهارتونه نه لرئ؟ | تاسې ددي وظيفي/ کسب لپاره کوم مهارتونه مناسب دي؟ | وظيفه يا دنده / پيشه يا کسب |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

| | | |
|---|---|---|
| | | |

**خپل نسبي غوره والی تشخیص کړئ**
**لارښوونې:**

زده کونکو ته روښانه کړئ چي اشخاص د نسبي غوره والی(comparative advantages) لرونکي وي، لکه هغه چي هيواد يې نسبي غوره والی ولري. له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو د ځنيو مثالونو په برخه کي فکر وکړئ او د زده کونکو لپاره يادونه وشي چي اوس قصد لرو ترڅو نسبي غوره والی خپل د انسانس سرمايي د لست په تکميل کولو سره مقايسه کړو مهارتونه او تعليم(چي اقتصاد پوهان د بشري سرمايي لپاره يې وايي) کشف کړو. له زده کونکو څخه غوښتنه وکړي چي خپل په خپله ارزيابی کي(self-assessment) بير طرفه او رښتني کړي. ولي په خپلو مهارتونو کي يوازې فعلي مهارتونه نه بلکي هغه مهارتونه٨ جي د تعليم او تربي خپلي په نتيجه کي يي مخکښ له دي نه چي مارکيټ او وظيفي ته داخلي شي په لاس راوړي، هغه هم په نظر کي ونيسئ. زده کونکو بايد انټرنيټ د دوهم فعاليت د تکميل په خاطر لاسرسی ولري.

يوه يا دوه ورځي وروسته ، کله چي زده کونکو د بشري مهارتونو (Human Capital Inventory)لست تکميل کړ او د غوښتل شوو مهارتونو سره يي مقايسه کړل، له هغوي نه پوښتنه وکړئ چي هغوي خپل نسبي غوره والی په دي نقطه کي کله او چيرته احساس کوي.